Government of Canada Gouvernement du Canada

# مطبوعاتي اعلاميه

## د کاناډا د نړیوالو مرستو وزیره د افغانستان څخه خپل کتنه پای ته ورسوله

د 2010 د مې 20 مه

**کابل-** د کاناډا د نړیوالو مرستو وزیره او د افغانستان لپاره د دې هیواد د کابینې د کمیټې مرستیاله میرمن بیورلي اودا له افغانستان څخه خپله کتنه پای ته ورسوله، او د دغه سفرپه ترڅ کې یې د کاناډا په مرسته د اوبو لګولو د پروژو، د کرنې او پوهنې د پروګرامونو له پرمختګ څخه د ټاکل شویو معیارونو له مخې ارزونه وکړه.

هغې چې خپل وروستۍ لیدنه له افغانستان څخه د 2009 کال د جنورۍ په میاشت کې ترسره کړې وه، وویل: " زه هغه یوازینی پیغام چې مې د اوسنۍ خبرو اترو په ترڅ په کابل او کندهارولایتونو کې له خلکو څخه اوریدلی، دا دی چې افغانان د کاناډا د هڅو پایلې په خپلو سترګو ګوري. زه همدرانګه ټینګار کوم چې کاناډا د افغانستان سره خپل پرمختیایي او بشري مرستو ته به د 2011 کال نه وروسته هم دوام ورکړي."

میرمن اودا په کندهارکې د دغه ولایت د والي توریالی ویسا سره د یو لړ ناستو په ترڅ کې د اړوندو کلیدي پراختیایي چارو د پرمختګونو په اړه د ښوونې او روزنې ته لاسرسی او هم د عامو وګړو ته د اساسي خدمتونو وړاندې کول د افغانستان دولت د توان د ښې ودې له لاره خبرې وکړې.

نوموړې وزیرې همدارنګه، په کندهارکې د اوبو د کانالونو د بیارغونې پرمختګونه چې د ارغنداب د درې او کندهار ولایت له مرکزڅخه تیریږي، لازم معلومات ترلاسه کړه. د اوبو د کانال د سیستم بیارغونه د دهلې بند یوه برخه ده، چې د دغه اوبو لګولو سیستم له طریقه اوبه په ډیره ګټوره توګه د دې ولایت پر نورو کرنیزو برخو ته ولیږدول شي. لکه چې په دې وروستیو څو میاشتو کې ، 85.000 مترمکعبه او یا د دې معادل 45.00 د خاورو ډکې لارۍ له دې کانال څخه ایستل شوي، چې د دغه کانال اوبه به د کندهار اتیا سلنه اوسیدونکو ته ورسیږي.

له دې وروسته بیا د اقتصادي پراختیایي پروسې او نورې کرنیزې برنامې چې د دغه اوبولګولو پروژې پربنسټ جوړیږي ، لیدنه او څارنه وکړه. او هم یې وویل، چې د کندهار په ولایت کې ، د یو پراخ بنسټه کرنیز اقتصاد د بیارغونې لپاره ، کاناډا غواړي ترڅو د څارویو د ویش څخه ملاتړ وکړي او یو لړ زده کړې د غوښې د تولیداتو او د لبنیاتو محصولاتو د زیاتوالی په خاطربرابرې کړي ، چې دغې مرستې سره کاناډا کولای شي ، د کښت اوکار دفصل د اوږدوالي په خاطرګلخانې او ګلانو ته د ودې لپاره ځایونه برابرکړي.

د ارغنداب د اوبولګولو پروژې په پای کې ، هغه ځمکې چې د ترنک په فارمونو کې( چې مخکې پکې د القاعدې روزنیز کمپونه جوړکړي وو) د بیارغونې لپاره آماده کړې. او بیا دغې ځمکې څخه به د کرنیز پراختیایی مرکزپه توګه د افغانستان په سویلي سیمې کې په موثره توګه کار واخستیل شي. لکه چې ټول زده کړې به د کرنې د تخصص ، نباتي تولید ، مالدارۍ، کر نیز اقتصاد ، سوداګرې او بازارموندنه او هم د کلیو پراختیاوی په دغه مرکز کی ترسره شي.

کاناډا په لومړي قدم کې، د یوه مالي مرستندویه هیواد په توګه د ښووني سکتور په چوکات کې د ښووني د کیفیت د ښه والي پروګرام ( EQUIP ) له لارې په افغانستان کې بوخت دی. او د پوهني وزارت سره د اساسي پوهني دکیفیت د لوړوالي په لوړپه کچه کار کوي. همداشان نوموړي ، په کندهار کی د پوهنې پر موضوع ، په یوې خبرې ناستی کی هم ګډون وکړ.

د کاناډا یوه پروژه په دغه برخه کی د 50 ښوونځیو جوړول دی، میرمن اودا وویل :" د 50 ښوونځیو څخه 16 باب یی بشپړ شوي او 27 یي د جوړولو لاندې دي او هم د دی ډلي څخه، پاتي نور د پراخو ترونونو په حال کی دي.
میرمن ودا همدرانګه په کابل کې د افغانستان د پوهني له وزیر ډاکټر فاروق وردک او د دغه وزارت د ښوونکیو د روزنې له مشرې سوسن وردګ سره لیدنه کتنه ترسره کړه.

په کابل کې میرمن اودا ،د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي ستیفن دی میستورا، او همدرانګه د افغانستان د نظر د خاوندانو سره لیدنه کتنه وکړه. دې همدرانګه په هغه ګردې میز کې ګډون وکړ، چې د بشري مرستو په اړه جوړ شوی وو.

د نورو ناستو په ترڅ کې، دې د افغانستان د عامې روغتیا وزارت مرستیال ډاکټرنادره حیات برهاني سره او هم د یوې ډلې نورو پلي کوونکو همکارانو سره لیدنه وکړه ، او د مرستو پرموثریت، د ماشومانو او میندو د روغتیا او د ګوزن یا پولیو د ناروغی د له منځه وړلو په اړه خبرې وکړې.
د مي د میاشتي په پیل کې د افغانستان د عامې روغتیا وزارت لخوا د میندو او ماشومانو د بقا د کمیټي پرانیستونکي غونډه جوړه شوه.

تر 2011 کال پورې د افغانستان لپاره د کاناډا د لسو کلونومرسته به 1.9 ملیارډه دالرو ته ورسیږي.
چې له دغه مرستې سره کاناډا د سترو مرسته کوونکو هیوادونو له ډلي څخه شمیرل کیږي.
همدارنګه په 2009/2008 مالي کال کې کاناډا نږدې224 میلیون ډالره د پراختیایي او بیارغوني په برخو کې له افغانستان سره مرسته کړې ده.

د لا زیاتو معلوماتو لپاره د لاندنی پتې سره په تماس کې شئ.

دیبرا بایس
د عامه دیپلوماسی مسووله
د کاناډا سفارت
کابل، افغانستان
موبایل: 0797978623
بریښنالیک:Debra.Boyce@international.gc.ca